افغانستان اسلامي
امارت
لوړو زده کړو
وزارت
التقوی د لوړو زده کړو موسسه
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

# لومړی ربعي کاري

۱۴۰۲/۴/۱ نه تر ۱۴۰۲/۶/۲۹

راپور ورکوونکي نوم: سید اسرار صمیم
دنده: ستراتیژیک پلان کمیتی مسؤل

راپور اخیستونکي نوم: زاهد الله سیدی
دنده: د پوهنځی ریس

سریزه

**الحمدلله رب العالمین و العاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی رسوله محمد و علی اله و اصحابه اجمعین.**

و بعد: دا چې راپور ورکونه یو مهم اداري اصل دی چې په اساس یې په اداره کې ټولو اړونده اجراء شوو دندو څخه معلومات اخیستل کیږي او اداره په دې پوهیږي چې ددوی د پلان شوو کړنو څومره اندازه ترسره شوی ده. د همدې اصل په اساس د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ستراتیژیک پلان کمېټې د دویمی ربعی کړنې چې د پوهنځی د تطبیقي پلان په اساس پیش بینی شوی وی، د خپلو ټولو اړونده همکارو شعبو په مرسته اجراء کړی چې د اجراء شوو کړنو اسناد او شواهد یې په دی راپور کې ضمیمه دی.

د ستراتیژیک پلان کمېټې د ۱۴۰۲/ ۱/۴ څخه تر ۲۹/۶/۱۴۰۲ تاریخ پورې د ټولو پیش بینی شوو کړنو راپور چې په کې د اړوندوو برخو په وسیله اجراء شوی کړنې په هارد او سافټ شکل کې د هغوی څخه په رسمی ډول غوښتل شوی وي، په ټولو اړینو برخو مشتمل دی، او د نمونې په شکل یې اسناد او شواهد ددی مکتوب ضمیمه دي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په ۱۴۰۲ل کال په دوهمه ربعه کې د ستراتیژیک پلان د تطبیقی پلان له مخې ټول پیش بینی شوی فعالیتونه په خپل وخت او منظم ډول سره ترسره کړی دی چې ټول اړونده موارد په لاندې ډول سره مطرح کوو:

د ټولو لوړو مقاماتو پر وړاندې د اصولو له مخې په ښه توګه استاز ولي کړې.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د علمي، اداري او مدیریتي چارو د ترسره کولو په موخه په ۱۴۰۲ کال د دوهمی ربعې ټولې علمي شوراګانې تر سره شوي دي.

د لوړو زده کړو وزارت، د مؤسسې او پوهنځي د اړونده قوانیونو، مقرااتو، لایحو او پریکړو څارنه او د تطبیق لپاره هلې ځلې شوي.

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په ۱۴۰۲ ل کال په دوهمه ربعه کې د پلان مطابق عملي برنامي او علمی سمینارونه وړاندې کړی چې اسناد او شواهد یې ددې راپور مشتمل دي.

په ۱۴۰۲ ل کال ددویمې ربعې د پوهنځي، څانګو او کمېټو ټول (میاشتنې او ربعوار) راپورونو تر تیب شوي او د پوهنځي علمي شوراګانو ترتائیدی بعد ښکېلو اړخونو سره شریک شوي.

په ۱۴۰۲ ل کال کې د پوهنځي په دواړو څانګو کې د مهالویش مطابق په ښه شکل تدریسي ( نظري او عملي) بهير تکمیل شوي.

د تضمین کیفیت په برخه کې د اړونده (۱۱) اصلي او (۴۹) فرعی معیارونو د تکمیل په پار د پوهنځي ټول تشکیلات په خپلو برخو کې ارسره کوی، فعال دي او کار کوي.

د پوهنځي د تضمین کیفیت کمېټو په تشکیلاتو کې دوه نوې (برېښنايي زده کړو کمېټه او فرهنګي چارو کمېټه ایجاد شوي.

د مؤسسې، پوهنځي او د تضمین کیفیت او اعتبار ورکونې آمریت په مستقیمه او غیر مستقیمه همکارۍ د (PDC) له لوری د استاذانو او اداري کارمندانو د مسلکي پرمختیا په پار علمي برنامې، سیمینارونه او ورکشاپونه په لاره اچول.

په ۱۴۰۲ ل کال لومړۍ ربعې کې د حقوقو پوهنځي د محترمو استاذانو له لوري په ګڼو موضوعاتو علمي څېړنې تر سره کړي.

د حقوقو پوهنځي په کچه د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې په چوکاټ کې د عملي تدبيقاتو مرکز ایجاد.

د دیپارتمنتونو د استراتیژیکو پلانونو تدوین، د علمي څېړنو یو کلن انکشافي پلان تدوین، د پوهنځی د کاري پلان له تطبیق څخه د څارنې ربعوار او کلني توحیدي راپورونو جوړول، پوهنځي په تشکیلاتو بیا کتنه، د اخلاقي، نظم ـ دسپلین او د انصاف ـ عدالت له کودونو او اصولو تامین او څارنه، د تحصیلي نصاب د تطبیق څارنه، بیا کتنه او انکشاف، استادانو ته OBE/SCL محصل محوری ورکشاپونو تدویر او د تطبیقی پلان په ټولو برخو کې منظم ډول فعالیترنه ترسره شوی.

## دویمه برخه: د ترسره شوو اجراآتوو ډولونه او د هغې تفصیل

**د پوهنځي د علمي شوراګانو د غونډو ریاست کول:**


حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د علمي، اداري او مدیریتي چارو د ترسره کولو په موخه د پوهنځي په مشرۍ په ۱۴۰۲ کال لومړۍ ربعي کې د پوهنځي د علمي شوراګانو د غونډو ریاست په خپل وخت او ښه شکل تر سره شوي، چې په یاده ربعي کې ۳ غونډې تر سره شوي.





**د قوانینو، پلانونو او پرېکړو تطبیق او څارنه:**

د لوړو زده کړو وزارت، د مؤسسې او پوهنځي د اړونده قوانینو، مقرراتو، لایحو او پرېکړو په ښه شکل څارنه تر سره شوي او د هغې د تطبیق لپاره هلې ځلې شوي او عملاً هم تطبیق شوي.






د ستراتیژیک پلان د تطبیقي راپور چمتو کول:


د ۱۴۰۲ کال د ستراتیزیک پلان د تطبیقي راپور ترتیب او اړوندو برخو ته لیږل شوی چې په ټولو اړوندو برخو باندې مشتمل دی. د کمېټې اړوند ټول راپورونه هم د اړوندو برخو سره شریک شوی.


## د دیپارټمنټونو د ستراتیژیک پلانونو تدوین

په ۱۴۰۲ هـ ش کال په دوهمه ربعه کې د ستراتیژیک پلان کمېټې په همکارۍ او مدیریت د دیپارټمنټونو اړوند ستراتیژیک پلانونه تدوین شوه. او په علمی شورا کې تصویب او د پوهنځی د ستراتیژیک پلان سره یې مطابقت وځیړل شو.




د افغانستان اسلامي امارت
دلوړو زده کړو وزارت
امارت اسلامی افغانستان
وزارت تحصیلات عالی
د التقوی د لوړو زده کړو موسسه
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه
ګڼه:
نېټه: ۱۴/ ۰۸/ ۱۴۰۲ مطابق: / / 1443
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استراتیژیک پلان کمیټې ته!
موضوع: د دیپارټمنټ ستراتیژیک پلان ادغام د پوهنځي د ستراتیژیک پلان سره
محترما!
د حقوقو او سیاسي علوموپوهنځي د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې د استراتیژیک پلان ددې مکتوب سره ضم د پوهنځي د استراتیژیک پلان سره د ادغام په موخه تاسې ته در واستول شو، څرنګه چې لازمه ګڼۍ اجرات وکړئ
په درنښت
احمد نشاط کېوال
د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې امر
د دفتر فایل





د حقوقي کلینیک اړوند عملي برنامې وړاندې شوی چې د نمونې په ډول یې دلته د ځینو عملی کارونو یادونه کوو لکه د حقوقي دعوی اقامه کول او رشوت په جرم کې د متهم نیول کېدل.

**ازموینو اخیستل:**

د دویمې ربعې په جریان کې د دویم چانس ازموینې واخیستل شوی او په دې شکل سره د امتحاناتو ستونزو ته رسیده ګې وشوه د ازموینو د بهیر څخه د پوهنځی رهبریَ په وسیله نظارت ترسره شو چې د نمونې په شکل تری یادونه کوو:

**په ټولنه کې ونډه:**

په همدې ډول په ۱۴۰۲ ل کال کې د نیالګیو کینولو پسرلني کمپاین کې د مؤسسې په مشرۍ ونډه احیستل شوي چې په یاد کمپاین کې د پوهنځي د محصلانو تر څنګ استاذانو او د پوهنځي رهبرۍ هم فعاله ونډه درلوده.





د تضمین کیفیت په برخه کې د اړونده (۱۱) اصلي او (۴۹) فرعی معیارونو د تکمیل په پار د پوهنځي ټول تشکیلات په ځانګړی ډول د مربوطه ( تضمین کیفیت، پلان او پالیسی، علمي څېړنو، تحصیلي نصاب، ازموینو او نظم او دسپلین ) کمېټي په بشپړ ډول فعالي ساتل شوي او په همدې ډول د ۱۴۰۲ عملیاتي پلان پر مبناء د برېښنایي زده کړو او فرهنګي چارو کمېټي هم ایجاد او ټولو اته سره کمېټو د تضمین کیفیت د مربوطه (۱۱) اصلي او (۴۹) فرعي معیارونو لپاره په دوامداره توګه کار وکړ چې بلاخره په همدې کال کې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوني دویم پړاو تر لاسه شوو.

**په تشکیلاتو بیا کتنه:**

په پوهنځی کې د علمي شورا د پریکړو په اساس ځینی تغیرات رامنځته شوی په همدې دلیل د پوهنځی تشکیلاتی چارت هم تغیر او نوی تشکیلاتی چارت اضافه شوی دی.










**د سیاسی علومو او نړیوالو اړیکو څانګې علمې برنامې**


د ۱۴۰۲ هـ ل کال په دوهمه ربعه کې د سیاسی علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ځینی عملی برنامې او علمې سمینارونه په لاره اچولی چې د نموني په شکل یې په لاندې ډول ذکر کوو:


**د حقوقي علومو څانګې د عملی برنامو او علمي سمينارونو شواهد:**


دواړو څانګو د لارښود کتابونو چمتو کول:


د تضمین کیفیت د غوښتنې په اساس دواړو څانګو د لارښود کتابونه ترتیب شول چې کاپیانې یې په مکتوبې ډول د پوهنځۍ ریاست او د تضمین کیفیت د کمېټو سره شریکې شوې دي د نمونې په شکل یې دلته شواهد راوړو.



**۸: د تضمیت کیفیت د معیارونو پوره کول:**

د معیارونو د غوښتني په اساس د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د تضمین کیفیت یولس ګونو دوسیو تکمیل شوي او د هغي د لا فعال ساتلو هڅه کیږي.







۹: د تضمیت کیفیت د معیارونو د غوښتني په اساس د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د ( اړونده څانګو، د اړونده کمېټو، تدریسي مدیریت) ربعوار ارزوني او همدارنګه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اړونده څانګو د (محصلانو پرمټ د تدریسي سهولتونو او یا د تدریس د کیفیت ارزونه او همدارنګه د استاذانو پر مټ د پوهنځي د سهولتونو ارزوني تر سره شوي، د نموني په توګه ځیني په لاندې کرښو کې په مختصره توګه بیانوو.

**سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګي د ارزوني نمونه:**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لخوا د تضمین کېفیت د معیارونو تحقق په اساس د ربعي په پای کې د مهالوېش مطابق د نورو د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې ارزونه تر سره شوو چې په ټوله کې د ۱۴۰۲ کال کړنې یې د قناعت وړ دي، په ندرت سره د نیمګړتیاو د اصلاح په موخه ورته لازمې سپارښتنې وشوې.



**د قضاء څانګي د ارزونې نمونه:**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لخوا د تضمین کېفیت د معیارونو غوښتنې په اساس د ربعي په پای کې د مهالوېش مطابق د قضاء او څارنوالی څانګي ارزونه تر سره شوو چې په ټوله کې د ۱۴۰۲ کال کړنې يې د قناعت وړ دي، په ندرت سره د نیمګړتیاو د د اصلاح په موخه ورته لازمي سپارښتنې وشوې.

د حقوقي کلینیک د ارزونې نمونه:



د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لخوا د تضمین کېفیت د معیارونو غوښتنې په اساس د ربعي په پای کې د مهالوېش مطابق د **قضاء او څارنوالی څانګي** ارزونه تر سره شوو چې په ټوله کې د ۱۴۰۲ کال کړنې يې د قناعت وړ دي، په ندرت سره د نیمګړتیاو د د اصلاح په موخه ورته لازمي سپارښتنې وشوې.



د پوهنځي د تدریسي مدیریت لومړی ربعي ارزونه

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي لخوا د تضمین کیفیت د معیارونو غوښتنې په اساس د ربعي په پای کې د مهالویش مطابق د تدریسي مدیریت ارزونه تر سره شوو چې په ټوله کې د ۱۴۰۲ کال کړنې یې د قناعت وړ دي، په ندرت سره د نیمګړتیاو د د اصلاح په موخه ورته لازمي سپارښتنې وشوې.**





د پوهنځي تضمین کیفیت او د هغې د اړونده کمېټو ربعوار څارنه او ارزونه
**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د تضمین کیفیت کمېټي پر مټ د معیارونو د غوښتنې په اساس د کال د لومړی ربعي په پای کې د تضمین کیفیت کمېټه او ور سره نورې مل کمېټې و ارزول شوې چې په ټوله کې د ۱۴۰۲ کال لومړی ربعي کړنې یې د قناعت وړ دي.**

**۱). لومړي خپله د پوهنځي** تضمین کیفیت د کمېټې **د کړنو څخه نظارت تر سره شوو چې، د مثبتو فعالیتونو د تشویق تر څنګ د نیمګړتیاو د رفع په پار ورته لازمي سپارښتنې وشوې.**





۲). د پوهنځي د معاون او تضــمین کیفیت کمېټې د مســؤل په شــتون کې د تضــمین کیفیت اړونده د پلان او پالیســۍ او د علمي څېړنو د کېمیټو د کړنو څخه نظارت تر ســره شــوو چې، د مثبتو فعالیتونو د تشــویق تر څنګ د نیمګړتیاو د رفع په پار ورته لازمې سپارښتنې وشوې.

۳). د پوهنځي د معاون او تضمین کېفیت کمېټې د مسؤل په شتون کې د تضمین کیفیت اړونده د تحصلي





نصاب او د نظم او دسپلین کېمیټو د کړنو څخه نظارت تر سره شوو چې، د مثبتو فعالیتونو د تشویق تر څنګ د نیمګړتیاو د رفع په پار ورته لازمې سپارښتنې وشوې.





**۴:د پوهنځي د معاون او تضمین کیفیت کمېټي د مسؤل په شتون کې د تضمین کیفیت اړونده د ازموینو او برېښنايي زده کړو کېمیتو د کړنو څخه نظارت تر سره شوو چې، د مثبتو فعالیتونو د تشویق تر څنګ د نیمګړتیاو د رفع په پار ورته لازمي سپارښتنې وشوې.**

۵: د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د **فرهنګي چارو کمېټه** خپله د پوهنځي رئیس قرار لري او د






معاون په همکارۍ يې چارې مخ ته ځي.




**۶: د محصلانو پرمټ د تدریس د کیفیت د ارزونه**


**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د تضمین کیفیت کمېټي لخوا د اړونده څانګو په همکارۍ تضمین کیفیت د معیارونو غوښتنې په اساس د سمستر په پای کې د محصلانو پرمټ د تدریس د کیفیت ارزونه تر سره شوو چې په ټوله کې د ۱۴۰۱ کال خزاني سمستر چې په همدې ۱۴۰۲ کال په لومړۍ ربعه کې پای ته**

**ورسـپده د پوهنځي اړونده سـهولتونه په کې د قناعت وړ دي، په کمه کچه د نیمګړتیاو د اصـلاح په پار يې لازم تدابیر اتخاذ شوي**


د التقوی د لوړو زده کړو موسسه
(    ) پوهنځي
د کیفیت تضمین کمیټه
د محصلینو لخوا د تدریس د کیفیت د ارزونې پوښتنپاڼه
د پوهنځي ارزونه
پوهنځی ( حقوق او سیاسي علوم ) څانګه (    ) نیټه: ۱۴۰۲/۳/۲۴
درنو محصلینو: ستاسي په وسیله د هرې پوښتنې ځوابول ډېر ارزښت لري. پوښتنو ته ځواب ورکول باید په واقعیتونو ولاړ وي. دغه ارزونه ستاسو دستونزودحل اودتدریس دښه والي په موخه ده، کومه چې د نړۍ په ټولو پوهنتونونو کې مروجه ده.

۷: د تضمين کيفيت د معيارونو د غوښتني په اساس د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي لپاره د مؤسسي په ويپ سايټ کې خپله برخه فعاله او اړونده برخي يې تکميل شوي.






۸: د تضميت کيفيت د مقتضى په اساس د حقوقو پوهنځي د نشراتو لپاره ځانګړى فيسبوک پاڼه د فرهنګي چارو کمېټي په همکارۍ چارې ادامه لري.




د علمي کادر غړو د مسلکي پرمختیا په برخه کې:
په ۱۴۰۲ ل کال په لومړۍ ربعې کې د  تضمین کېفیت مرکزي آمریت او مسلکي پرمختیا مرکز په مستقیمي همکارۍ  د حقوقو پوهنځي د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکو ته د دوی د ظرفیت لوړوني په برخه کې بیلابیل سیمینارونه او ورکشاپونه وړاندې شوي چې په ټولو یادو برنامو کې د پوهنځي استاذانو او اداري همکارانو فعاله برخه اخیستې: د مثال په توګه:

۱). د مؤسسي علمي چارو معاونیت تر چتر لاندې(تضمین کېفیت مرکزي آمریت او مسلکي پرمختیا مرکز) په همکارۍ د ۱۴۰۲ ل کال د ثور په میاشت کې استادانو ته د نړیوال ژورنال له پاره د مقاله لیکلو او نشرولو ورکشاپ وړاندې شو، چې د حقوقو پوهنځي اړونده استاذانو په کې فعاله ونډه واخیسته.

د مؤسسي علمي چارو معاونیت تر چتر لاندې (تضمین کېفیت مرکزي آمریت او مسلکي پرمختیا مرکز) په همکارۍ د ۱۴۰۲ ل کال د جوزا په میاشت کې استادانو ته التقوی علمي مجلې لپاره د مقالي لیکلو او نشرولو سیمینار وړاندې شو، چې د حقوقو پوهنځي اړونده استاذانو په کې فعاله






ونډه واخیسته.

د مؤسسي علمي چارو معاونیت تر چتر لاندې (تضمین کېفیت مرکزي آمریت او مسلکي پرمختیا مرکز) په همکارۍ د ۱۴۰۲ ل کال د جوزا په میاشت کې استادانو ته د امر په معروف او نهی عن المنکر سیمینار وړاندې شو، چې د حقوقو پوهنځي اړونده استاذانو په کې فعاله ونډه واخیسته.





د مؤسسي علمي چارو معاونیت تر چتر لاندې (تضمین کیفیت مرکزي آمریت او مسلکي پرمختیا مرکز) په همکارۍ د ۱۴۰۲ ل کال د حمل او ثور په میاشتو کې استادانو ته د تدریس د بهبود کورس (د لویانو زده کړې مهارتونو) سیمینار وړاندې شو، چې د حقوقو پوهنځي اړونده استاذانو په کې فعاله ونډه واخیسته.





د علمي څېړنو په برخه کې:

الف: علمي څېړنې( څېړنيزې مقالې): په ۱۴۰۱ ل کال کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د محترمو استاذانو له لورې په ګڼو موضوعاتو علمي څېړنې شوي چې کړنې يې په ۱۴۰۲ لومړيو کې بشپړې شوي.

**۱ د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د محترم استاذ خوشحال جواد له لورې د (د ملي او بین المللي حقوقو ترمنځ تیوریکي او عملي اړیکي) تر عنوان لاندې د ټولنې د مسلکي او تخصصي ادارو او اشخاصو تر څنګ د پوهنځي محصلانو د پوهاوی په پار علمي څېړنیزه مقاله ترتیب او د مؤسسې په علمي مجله کې نشر شوو.**



د ملي او بین المللي حقوقو ترمنځ تیوریکي او عملي اړیکي — خوشحال جواد

**خوشحال جواد**

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه

لارښود استاد: پوهنوال محمد ایمل حقمل

**د ملي او بین المللي حقوقو ترمنځ تیوریکي او عملي اړیکي**

**لنډیز**

د ملي او بین المللي حقوقو تر منځ د اړیکو په مورد کې حقوقپوهانو زیات نظریات ورکړي دي چې له دې جملې څخه دوه نظریې مهمې او معمولې دي، د حقوقو د دوه ګوونې توب نظریه او د حقوقو د یووالي نظریه. د حقوقو دوه ګوونې توب په دې معنی چې ملي حقوق او بین المللي حقوق کاملاً دوه جلا او مستقلې حقوقي رشتې دي چې یو په بل باندې هیڅ ډول تکیه نه لري. د دې ډلې حقوقپوهانو له نظره ملي حقوق او بین المللي حقوق هغه دوه تعمیرونو ته ورته دي چې هر یو په یوې جلا ځمکې او پایو سره جګ شوي وي، غبر له دې نه چې یو په بل باندې تکیه ولري. د حقوقو د یووالي نظریې پر بنسټ ملي او بین المللي حقوق یو له بل څخه جلا نه دي بلکې د یو واحد حقوقي جوړښت دوه نه بیلیدونکي اجزاء دي، د دې نظریې له مخې بین المللي حقوق په اتوماتیک ډول د ملي حقوقو قلمرو ته داخلیږي او ملي حقوقي ارګانونه او محاکم کولای شي مستقیماً په هغوی باندې استناد وکړي یعنې په ملي حقوقي ارګانونو او محاکمو کې د بین المللي حقوقو تنفیذ د داخلي ذیصلاح مقاماتو تصویب او تائید ته اړتیا نه لري.

له عملي حیثه ملي او بین المللي حقوق په څلورو طریقو یو له بل سره اړیکې ټینګوي چې له دې جملې څخه احاله او وصول اصلي طریقې دي او تکمیل او تعارض فرعي د دې علمي مقالې د لیکلو اساسي موخې د ملي او بین المللي حقوقو

التقوی علمي مجله

التقوی د لوړو زده کړو موسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ — ۳

زاهدالله سیدي

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه

لارښود استاد: پوهنوال محمد ایمل حقمل

## د جرم او اداري تخلف ورته‌والی او توپیرونه

التقوی علمي مجله ۸۹

پوهنوال محفوظ الله عارفي

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه

لارښود استاد: پوهنوال محمد ایمیل حقمل

## د اسلامي شریعت او افغانستان د قوانینو له نظره پټ کشفي اقدامات

محمد عمران دولتزی

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالۍ څانګه

لارښود استاد: دوکتور حمدالله کاکړ

## اسلام کې د ښځو او سړیو د حقوقو او مسولیتونو څیړنه

**۲: د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د محترم استاذ زاهدالله سیدي له لورې د (د جرم او اداري تخلف ورته والي او توپیرونه) تر عنوان لاندې د تولنې د مسلکي او تحصصي ادارو او اشخاصو تر څنګ د پوهنځي د محصلانو د پوهاوی په پار علمي څېړنیزه مقاله ترتیب او د مؤسسې په علمي مجله کې نشر شوو.**

**۲). د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د محترم استاذ عبدالحمیدسیرت له لورې د (د لاجوردو لارې فرهنګي، اقتصادي او سیاسي اهمیت) تر عنوان لاندې د تولنې د مسلکي او تحصصي ادارو او اشخاصو تر څنګ د پوهنځي د محصلانو د پوهاوی په پار علمي څېړنیزه مقاله ترتیب او د مؤسسې په علمي مجله کې نشر شوو.**

**۳). د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د محترم اسـتـاذ بختیار حلیمي له لورې د (په سـوداګریزو چارو کې نا مشـــروع راقـابـت) تر عنوان لانـدې د تولنې د مسلکي او تحصصي ادارو او اشخاصو تر څنګ د پوهنځي د محصـــلانو د پوهاوی په پار علمي څېړنیزه مقاله ترتیب او د مؤسـســـې په علمي مجله کې نشر شوو.**

**۴). د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د محترم استاذ اسلام الدین منیب له لورې د (په اسـلام کې د چکچکو حکم) تر عنوان لاندې د تولنې د مسلکي او تحصصي ادارو او اشخاصو تر څنګ د پوهنځي د محصلانو د پوهاوی په پار علمي څېړنیزه مقالـه ترتیب او د مؤسسې په علمي مجله کې نشر شوو..**

۵). د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د محترم استاذ خوشحال جواد له لورې د (نړیوالې حقوقي شخړې او د هغوی د حل او فصل حقوقي ارګانونه) تر عنوان لاندې د تولنې د مسلکي د تحصصي ادارو او اشخاصو تر څنګ د پوهنځي د محصلانو د پوهاوی په پار علمي څېړنیزه مقاله ترتیب او د مؤسسې په علمي مجله کې نشر شوو..

۶). د حقوقو پوهنځي د قضاء څانګې د محترم استاذ عزیزالدین نجات لـه لورې د (د اســـلامي فقهي او افغانســـتان د مدني قانون لـه نظره د خیار تعین) تر عنوان لانـدې علمي څېړنیزه مقــالــه ترتیــب او د مؤسسې په علمي مجله کې نشر شوو..

د یـادونې وړ ده چې د حقوقو او ســـیاســـي علومو پوهنځي د اړونـده څـانګو د محترمو اســـتـاذانو د پورته علمي څېړنو او مقالو د لیکلو په پایله کې د مؤسسې علمي مجله چاپ او نشر ته وسپارل شو.


پوهنمل نور انور فاروقي
حقوقو سیاسي علومو پوهنځی، قضاء او څارنوالي څانګه
لارښود استاد: پوهنوال محمد اسمعیل

د اسلامي او مروجې بانکدارۍ ترمنځ توپیرونه

لنډیز
اسلامي بانکداري هغه سیستم ته وایي چې په اسلامي اصولو او اسلامي اقتصاد باندې ولاړه وي او په مشخصه توګه د سودي راکړې ورکړې مخالفت کوي. اما مروجه بانکداري یا هغه سیستم ته وایي چې په وضعي اصولو او سودي اقتصاد باندې ولاړه وي او په مشخصه توګه د سودي راکړې ورکړې مطابق فعالیت کوي.


په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر — حبیب‌الله لوراند

حبیب الله لوراند
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، اداري او دیپلوماسي څانګه
لارښود استاد: پوهاند شاه ولي خان

په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر

لنډیز
خوشحال خان خټک د خپلو سیاسي مبارزو ترڅنګ د پښتو شعر او ادب لپاره هم هلې ځلې کولې پښتو ژبه پر خپلو هنري افکارو د ژوند، خوند او رنګ ژبه کړه او پښتون یې د پوهې او هنر په ګانه سمبال کړ، چې اوس د پښتو ادب زیاته برخه د خان ادبي، هنري او فرهنګي هڅې او اثار جوړوي.

د پښتو ادب مینه والو او محصلینو سره همېشه دا پوښتنه وي، چې ولې خوشحال خان یو ځای یو څه رد کړي او بل ځای یې بیا تایید کړي دي، چې دا پوښتنه تر دا مهاله ناسپړلې پاتې وه، د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې د پښتو ادبیاتو لارویان او زده کوونکي به د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کې پر موضوعي تضادونو یو اندازه پوهه ترلاسه کړي او په دې برخه کې شته غوټه به ورته پرانیستل شي.

په دې مقاله کې په سیاسي ډګر کې د خوشحال خان متضاد فکر په هر اړخیز ډول سپړل شوی دی د موضوع د څېړنې لپاره مې د خوشحال خان خټک د ژوند، ټولنیزو او سیاسي حالاتو په اړه یو شمېر کتابونه ولوستل او له هې وروسته مې د موضوع اړوند متضاد بیتونه په پوره غوره او دقت سره وسپړل، هیله لرم، چې زما دغه هڅه به وکړای شي د خوشحال خان په دیوان کې د موضوعي تضادونو په پېژندنه او د هغې عواملو په برخه کې د یو ماخذ په توګه ثابته شي او همدارنګه د پښتو ادبیاتو د ماسترۍ او

التقوی علمي مجله
۱۱۴



ب: علمي مقالې:

په ۱۴۰۲ ل کال کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د محترمو استاذانو له لورې په ګڼو موضوعاتو علمي مقالې لیکل شوي چې ځیني په لاندې کربښو کې ذکر کوو:

۱). د حقوقو پوهنځي د قضاء او څارنوالۍ څانګې د استاذ محمد عمران دولت زي له لورې د ( قربانۍ احکام) تر عنوان لاندې د پوهاوی په پار علمي مقاله ترتیب او نشر شوو.






۲: د حقوقو پوهنځي د قضاء څانګې د استاذ محمدعمران دولتزي له لورې د (اتکاف) تر عنوان لاندې د پوهنځي د محصلانو تر څنګ د ټولنې د مسلکي او تحصصي ادارو او اشخاصو د پوهاوی په پار علمي مقاله ترتیب او نشر شوو






۲). د حقوقو پوهنځي د قضاء څانګې د استاذ عبدالصبور مبارز له لوري د (امریکامتحده ایالاتو پر بهرني سیاست د اغېز لرونکي لاملونو څېړنه) تر عنوان لاندې د پوهنځي د محصلانو تر څنګ د ټولنې د مسلکي او تحصصي ادارو او اشخاصو د پوهاوی په پار علمي مقاله ترتیب او نشر شوو.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قوت نقاط




د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسي د ایجاد له وخته تر اوسه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ملا د تېر حیثیت لري، چې په لاندې کرښو کې د پیاوړتیا ځینې مواردو ته اشاره کوو:

الف: د علمي کادر په برخه کې:
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو په اډانه کې د زون او حتی د هېواد په کچه د لوړو تحصیلي درجو( ماستر او دکتورا) لورنکي او په همدې

ډول د لوړو علمي رتبو لرونکي متخصص او مجرب عملي کادرونه لري چې په دې کې د پوهاند علمي رتبو پورې محترم استاذان شامیل دي.

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د (۱۴۰۱) تحصیلي کال د استادانو شمېرنه (احصایه)

| پوهنځي | څانګې | دایمي – نارینه – دکتور | دایمي – نارینه – PhD سکالر | دایمي – نارینه – ماستر | دایمي – نارینه – لیسانس | دایمي – ښځینه – دکتور | دایمي – ښځینه – ماستر | دایمي – ښځینه – لیسانس | ټول | بالمقطع – نارینه – دکتور | بالمقطع – نارینه – سکالر | بالمقطع – نارینه – ماستر | بالمقطع – نارینه – لیسانس | ټول | قراردادي – نارینه – دکتور | قراردادي – نارینه – ماستر | قراردادي – نارینه – لیسانس | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حقوق او سیاسي علوم | قضاء او څارنوالي | ۰ | ٦ | ۱۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۲۱ | ۱ | ۰ | ۲ | ۰ | ۳ | ۲ | ۳ | ۰ | ۵ |
| | اداره او ډیپلوماسي | ۰ | ۱ | ۷ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۴ | ۰ | ۵ |
| پوهنځي ټول استاذان | | ۰ | ۷ | ۱۷ | ۳ | ۰ | ۰ | ۱ | ۲۸ | ۱ | ۰ | ۲ | ۰ | ۳ | ۳ | ۷ | ۰ | ۱۰ |
| د پوهنځي د ټولو استاذانو شمېر | | ۴۱ | | | | | | | | | | | | | | | | |

- پوهاند دوکتور حفظ الله دانش؛
- پوهاند دوکتور مصطفی نیازی؛
- پوهاند احمدګل واثق؛
- پوهاند نقیب الله ثاقب؛
- پوهنمل منګل شېرزاد؛
- پوهنمل محمدایمل حقمل؛
- پوهنمل محفوظ الله عارفي؛
- دوکتور حمدالله کاکړ؛
- پوهنمل نور انور فاروقي؛
- پوهنمل عبدالمتین جلیلي.
- پوهنمل محمدعرفان قریشي،
- پوهنیار نیازمحمد همدرد،
- څېړندوي عبدالصبور مبارز؛
- استادحبیب الله لوراند؛
- استاد جمیل الرحمن زاهد؛
- استاد زاهد خلیلي؛
- استاد اسلام الدین منیب؛
- استاد رشید الله شینواری؛
- استاد فواد ارین؛
- استاد خوشحال جواد؛
- استاد عبدالحمد سیرت؛
- استاد عبدالعزیز همت؛
- استاد زاهدالله سیدي؛
- استاد محمد ظهور شریفي؛
- استاد حبیب الرحمن سربلند؛
- استاد احمد نشاط کلیوال؛
- استاد عزت الله عزیز؛
- استاد یادامګل رحیمي؛
- استاد نقیب الله مطمین؛
- استاد عزیزالدین نجات؛
- استاد بختیار حلیمي؛
- استاد لطف الله عزیزي؛
- استاد محمدعمران دولتزي؛
- استاد حمدالله حمیدي؛
- استاد اسرار الله عظمي؛
- استاد محمد ابراهیم صدیقي؛
- استاد تنګیالي مصون؛
- نبی الله ستانکزی.
- استاذ شاکر فنا.



ب: د مؤسسي د رهبرۍ او مديريت په برخه کې:


د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د مجربو علمي کادرونو پر لرلو سره د مؤسسې د رهبرۍ لويه برخه تشکيلوي:

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاذ




خوشحال جواد: د مؤسسي رئيس

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاذ



دکتورعبدالحميد سيرت: علمي چارو مرستيال

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاذ



حبيب الرحمن سربلند: تضمين کيفيت عموي مسؤل

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاذ



عبدالعزيز همت د محصلانو چارو معاون

د مؤسسي د تضمین کېفیت کمېټي:

همدارنګه د مؤسسي په کچه د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوني آمریت په اډانه کې اکثریت کمېټي له پخوا د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د علمي کادرونو له لورې ادره او مدیریت کېږي.




د م

په

حقوقو پوهنځی د تحصیلي معیار او ښه کیفیت سره ځانګړی نوم خپل کړي په همدې اساس تر نورو تحصیلي بنسټونو زمونږ د محصلانو د کمیت او کیفیت فیصدي لوړه ده او په ګڼ شمېر کې علمي کادرونه یې ټولنې ته د خدمت په موخه واړندې کړي.



د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د اداري او مديريتي چارو د تر سره کولو لپاره مجرب او په کار پوهه کارمندان لري، چې د تدريس اړونده ټولي اجرائيوي او اداري چارې د يو منظم  اداري سيستم او برېښنايي ( ډيټابس) له طريقه اجراء او مديريت کېږي.






## دریمه برخه: د پوهنځي د ښکېلو اړخونو فعالیتونه:

د حقوقي علومو څانګي د ۱۴۰۲ ل کال د لومړۍ ربعي کړنې:

**يادې څانګي تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په همدې ډول د راتلونکي ربعي لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.**







سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګي د ۱۴۰۲ ل کال د لومړۍ ربعي کړنې:

**يادې څانګي تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په همدې ډول د راتلونکي ربعي لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.**

حقوقي کلينيک د ۱۴۰۲ د لومړۍ ربعي کړنې:

**يادې کلينيک تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په**







**همدې ډول د راتلونکي ربعي لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.**







۱۴۰۲ د لومړۍ ربعي کړنې:

**يادې کمېټې تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په همدې ډول د راتلونکي ربعي لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.**

د پلان او پالیسی کمېټې د ۱۴۰۲ د لومړۍ ربعي کړنې:







د علمي څېړنو کمېټې د ۱۴۰۲ د لومړۍ ربعي کړنې:

**يادي کمېټي تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په همدې ډول د راتلونکي ربعې لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.**







د
ک

**يادي کمېټي تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په همدې ډول د راتلونکي ربعې لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.**







د ازموينو کمېټي د ۱۴۰۲ د لومړۍ ربعې کړنې:

**يادې كمېټې تر ډېره د ۱۴۰۲ ل كال پلان تطبيق كړي او په خپل وخت يې د كړنو راپور شريک كړي او په همدې ډول د راتلونكي ربعې لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب كړي.**







د نظم او دسپلين كمېټې د ۱۴۰۲ د لومړۍ ربعې كړنې:

**يادې كمېټې تر ډېره د ۱۴۰۲ ل كال پلان تطبيق كړي او په خپل وخت يې د كړنو راپور شريک كړي او په همدې ډول د راتلونكي ربعې لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب كړي.**







ربعې كړنې:

يادي کمېټي تر ډېره د ۱۴۰۲ ل کال پلان تطبيق کړي او په خپل وخت يې د کړنو راپور شريک کړي او په همدې ډول د راتلونکي ربعي لپاره يې اړونده پلانونه ترتيب کړي.







حقوقو او سياسي علومو پوهنځي پروړاندې ستونزې:

د هېواد ناوړه اقتصادي حالت:
د هېواد عدلي او قضايي نهادونو چاري يا ( ځنډېدلی، يا مدغم شوي او يا هم لغوه شوي):
د ښځينه محصلانو په زده کړو بنديز:
د استاذانو رسمي او دايمي عدم تقرر:
د علمي کادر کمښت او يا د دندې ترک:.
د تحصيلي نهادونو ترمنځ غير سالم رقابتونه:
د تضمين کيفيت د معيارونو په اړه د واحد نظر نشتون.
په کتابتون کې د پوهنځي اړونده کتابونو عدم شتون:
د تضين کيفيت د ځينو کړنو لپاره متخصصينو نه موجوديت.
دي ستونزو د نوي جذب په پروسه باندي نژدي ۹۰ سلنه منفي اغيزې کړي.

حقوقو او سياسي علومو پوهنځي پروړاندې خندونه:

د وظيفي عدم ثبات او نه خونديتوب.
د غير صاحب نظر څخه د معلوماتو غوښتل.
ماتختو مامورينو ته د مافوق مسؤلينو د څارل دنده ورکول.
په بستونو کې ډېر تغير او بدلون.
د تدارکاتو په برخه کې مشکلات پر خپل وخت چارو ته عدم رسېده ګي.
د استاذانو د معاشاتو په ورکړه کې ځنډ.
د مافوق او ماتحت همکارانو کړنو کې عدم سلسه مراتيب:
د دندې د لايحي پرته د زيات شمېر کارونو تحميل.

ادارو ته په سهولتونو برابرولو کې تبعیض:
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په کړنو کې نیمګړتیاوي:

د اړونده پلانونو  تطبیق کې نیمګړتیاوي موجودي وي:
د تضمین کیفیت  د اړونده کمېټو په فعالیتونو کې نیمګړتیاوي موجودي وي:
د څانګو  په کړنو کې ه هم نیمګړتیاوي موجودي وي:
د همکارانو تر منځ  د عدم ماهنګي نیمګړتیاوي شتون درلود:
د اړونده څانګو لپاره د جلا دفترونو عدم شتون:
د پوهنځي د نیمګړتیاوو او مشکلاتو په اړه وړاندېزونه (حل لارې)

د هېواد اوسني اقتصادي او سیاسي حالت ته په کتو باید حقوقو پوهنځي په فیسونو کې کمښت راشي.
د وظیفوي ثبات او خوندېتوب، پالیسي باید غني او په شپړ ډول  عملي شي.
د مسؤلو شخاصو او یا حداقل د صاحب نظر څخه د کړنو په اړه معلومات وغوښتل شي.
په بستونو کې د ژر او غیر مناسب تغیر او بدلون مخه باید ونیول شي،
ټول ماتخت او مافوق مسؤلین باید د مراتیبو سلسه په کړنو کې مراعت کړي.
د پوهنځي د کړنو څخه د نظارت او راپور اخیستل باید د مسؤلو اشخاصو لخوا تر سره شي.
په علمي او اداري کړنو کې هر اقدام او د مسؤلینو برخورد باید بشپړ اصولي وي.
د پوهنځي او رهبرۍ او نور د ښکېلو اړخونو  ترمنځ باید بشپړه هماهنګي رامنځته شي.
د هېواد ناوړه اقتصادي حالت د کنترول لپاره  باید د مؤسسې په کچه یو عادلانه میکانیزم رامنځته شي.
د مسلکي او تحصصي علمي کادر د ساتلو یو ځانګړی میکانېزم باید رامنځته شي.
د پوهنتونو د اتحادي په مشرۍ د استاذانو د رسمي او دایمې تقرر په اړه  د وزارت سره خبرې وشي.
د پوهنتونو د اتحادي په مشرۍ په ټولنه کې د غیر سالم رقابت په هکه باید خبرې وشي.
د پوهنځي د اړونده څانګو د  کتابتون لپاره باید مالي بدیجه پوهنځیو ته په واک کې ورکړل شي.
د تدارکاتو په برخه کې باید د اړتیا وړ اجناسو او غوښتنو ته په وخت او ژر رسېده ګې وشي.
د استاذانو معاشات باید په خپل وخت ورکړل شي.
د دندې د لایحې پرته د زیات شمېر کارونو تحمیلو څخه باید ډډه وشي
د پلان له تطبیق او وظیفوی موخو څخه ترلاسه شوی تجارب

د پوهنځي د رهبرۍ او مدیریت په برخه کې د کفایت تر حده تجربه ترلاسه شوي.
د پوهنځي علمي او تدریسي برخه کې بشپړ تجارب تر لاسه شوي.
د پوهنځي د تضمین کیفیت او اعتبار ورکوني په برخه کې تجربه ترلاسه شوي.
د پوهنځي د ټولو کړنو څخه د څارنې او ارزونې په برخه کې تجربه ترلاسه شوي.
د پوهنځي د اړونده برخو د قواینو، مقراراتو، لوایحو او پالیسو په برخه کې تر ډېره تجربه تر لاسه شوي.
د مؤسسي د نورو ادارو سره د هماهنګۍ په برخه کې د کفایت تر حده تجربه تر لاسه شوي.
د لوړو زده کړو وزارت د اړونده برخو په مورد کې تر ډېره تجربه ترلاسه شوی.
کاری موخو پوری تړلی تر لاسه شوی توقعات

د تضمین کیفت او اعتبار ورکوني دویم پړاو ستر هیله وه چې تر لاسه شوه.
د پوهنځي د علمي برخي توقعات تر ډیره بشپړ شوي.
د تضمین کیفت او اعتبار ورکوني د کمېټو فعالیتو څخه د توقوع وړ رضایت موجود دي.
د علمي برنامو په اډانه کي د پوهنځیو اړونده څانګي د نومونو په تغیر سره معیاري شوي،
د پوهنځي په اړونده چارو کې د قانونیت او شفافیت څخه رضایت شتون لري.
حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قوت نقاط:

د مؤسسي د رهبرۍ او مدیریت په برخه کې:
د مؤسسي د تظمین کیفیت د کمېټو په برخه کې:
د حقوقو پوهنځي د لوړو درجو او رتبو علمي کادرونه لري،
د کمیت او کیفیت په لحاظ د مناسبو محصلانو شتون.
د حقوقو پوهنځي محصلان د مؤسسي لویه مالي برخه تقویه کوي.
د مؤسسي په کچه د پوهنځي پراخه همکاري.
حقوقو پوهنځي د کړنو څخه تر لاسه شوي پایلي:

د مدیریت او رهبرۍ په برخه کې د پوهنځي په کچه تر ډیره لاسته راوړني لرو.
په ۱۴۰۲ کال کې د غایب محصلان بیا شمولیت.
په ۱۴۰۲ کال کې د صنفونه نظمیم
په ۱۴۰۲ کال کې د کریډیټونو ښه شکل تنظیم.
په اجرائیوی برخه کې د پوهنځي اکثره اجرائیو فعالیتونه تر سره *شوي.*
د علمي کادر غړو د مسلکي پرمختیا په برخه کې: تر یو حده کار شوي.
د علمي څېړنو په برخه کې: که څه هم دا برخه کمزوري ده مګر د تیر په پرتله یکې ډېر کار شوي.
د مؤسسي د رهبرۍ او مدیریت په برخه کې د حقوق پوهنځي د استاذان په دنده بوخت دي.
د مؤسسي مالي ملاتړ په برخه کې د حقوق پوهنځي د پام وړ ونډه لري.
په اداري، علمي او تضمین کیفیت برخه کې د کفایت په اندازه تجارب تر لاسه شوي.

## برخه: علمي شوراګانو ته د راپور وړاندې کول او تائیدي:

د پوهنځي علمي شوراته د راپور وړاندې کول او تائیدي:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پورتني د لومړۍ ربعي کاري راپور د اړونده برخو د راپورونو د توحید وروسته د پوهنځي د رئیس لخوا د پوهنځي علمي شورا ته وړاندې شوو، د علمي شورا د غړو د نظریاتو، پوښتنو، وړاندېزونو او هر اړخېزه بحث وروسته د اراو په اتفاق سره تائید او تصویب شوو او هم په (۴) ۱۴۰۲/۴/۱۴ ل کال ګڼه نیټې فوق العاده پرتوکول کې ثبت شوي.




**د مؤسسي علمي شوراته د راپور وړاندې کول او تائيدي:**

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي پورتني د لومړی ربعي کاري راپور د اړونده برخو د راپوررونو د توحيد وروسته د پوهنځي د رئيس لخوا د مؤسسي علمي شورا ته وړاندې شوو، د علمي شورا د غړو د نظرياتو، پوښتنو، وړاندې زونو او هر اړخېزه بحث وروسته د اراو په اتفاق سره تائيد او تصويب شوو او هم په (۴) ۲۹/ ۴ /۱۴۰۲ ل کال ګنه نيتي فوق العاده پرتوکول کي ثبت شوي.

د مؤسسي علمي شورا ته د پوهنځي د۱۴۰۲ کال لومړی ربعي راپور وړاندې کول



ترتیب کوونکی:
زاهدالله سیدي

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس

تائیدکوونکی:
خوشحال جواد
رییس د موسسی رییس